دمقالی لیکونکی : میخایل پارینتی (Michael Parenti).
سرچینه او خپریدو نیټه : انفارمیشن کلیرنګ هوس ۲۰۱۱-۶-۲۲
ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسام (مل) .

---

# امپریالیسم

## IMPERIALISM

دنړی په تاریخ کي په دي تیرو څلورو اویا پنځو پیړیو کي امپریالزم یوله ډیرو سترو قوتونو څخه شمیرل کیږي ، کوم چي لویی وچي یی ټوټي ټوټي کړل ،پروطني اوبومي خلکو باندي زورزیا تی وکړل ، تمدنونه یی له مینځه ویوړل ، اوس له همدي وجهي څخه دي چي زمونږ دډیرو لړو علمي اواکا د میکي کړیو ، ډ له ایزو خبري رسنیو ،سیاسیی مبصرینو اود سیا سي رهبرانو پاملرنه په ډیر جدي بڼي سره ځانته اړولی دی . که چیري امپریالیسم اویا دامپریالیسم موضوع په مطلق اویاپه کلي بڼي سره نالید لي وګڼل شي اویاپرهغه باندي سترګي پټ شي،نوپه هغه صورت کي ویلي شوچي امپریالسم ممکن بی عیبه او سپیڅلي پدیده وی ،اودا په دي معنی چي دغه امپراتوري په ( همګټی هیوادونو ) او مستعمرات یی به (ترولکی لاندی ځمکی) یا (تر واک لاندی سیمی) یا ( پورتریکو د«همګټی هیوادونو) په بڼي سره اړول شوي دی .اودبلي خوا څخه دامپریالسم نظامي تیري او لاس وهنه په (ملی دفاع)،ملی امنیت باندی تعبیرول په یوه اویاپه څوسیموکي د تیکاو دشعارونوپه ورکولوسره خلکوته معرفي کول هغه څه دي چي د هغه پلوایان دغه پدیده په پورتنیو مفاهیمو سره تبلیغوي ، زه غواړم چي دامپریالزم اصلی څیره په دغه لیکنه کي چی څه دی ؟ پوره لوڅ اوبربنډ کړم .

دټول نړۍ په سرتاسر کي : دامپرياليسم له روند
اوجريان څخه ځما مقصد دادی چی د يوي ځمکي يا ديو هيواد ملت دخپل بډايينه اوشتمن کيدو دپا ره دنورو ملتونو او يا د خلکو ځمکي، دکار نيرو ، اومه مواد اوبازارونه د خپل سياسيي اقتصادي برلاسی دپا ره مصادره اودهغو هيوادونو خلک له دارايی اويا له خپلو شتمنيو څخه محروم اويا سلب مالکيت کوي ،د غربي اروپا د دغه شومې او غيرانساني کړني لمړني قربا نيي کوم چي د بل اروپايی امپريالسم پواسطه سره تر ولکي لاندی راغی ايرلند وه چه څه دپا سه (۸۰۰) کاله مخکی ترسره شوه يعنی ايرليند د انګلستان پواسطه سره چي وروسته د بريتانيا دامپراتوری په نوم سره وپيژند ل شو په مستعمره واغوښتل . او دايرلند يوه برخه لا تراوسه پوری دانګلستان تر ولکی اواشغال لاندی قرار لری .نوروممخکينيو سپين پوستکو ( هندی اروپايی اوقفقازيانو) قربانيانو په شمول د ختيځی اروپا خلکو د شارلما نی يا لوی کارل ( دروم دامپراتوری بنياد ايښودونکی) په معد نونوکی دمرګ تر پولی کار کول ، کوم چی دغه کارکونکی اکثراً ( اسلاو )وه اودغه (اسلاوو) تر ډير اوږدی مودي اوپه پرلپسی بڼی سره کارکول يعنی دوی د شرقي اروپا تر اسارت لاندي وه چي دغه کارکران دبرده ګانو سره مترادفه وه اوله همدي کبله دي چی د (اسلاو ) کلمه يا لغت د شرقي اروپا له (اسلاوو) څخه اخيستل شوی چي دبرده ګۍ سره په معنی کی مترادف دي ، اود لته ديادوني وړ بريښي چي شرقي اروپا په هغه زمانو کی د لمړني زيرمي شوی پانګي سرچينه وه او په اولسمه پيړي کی خلکو دغربي اروپا په توليدي مانوفکتورونو پوري ټول تړلی اوپه ارتباط کی سره وه .

دمثال په توګه داروپا په دننه کی ديو ډير ناوړی او مهلک امپرياليسم دامپراتوري څخه کوم چی د ددوهمې نړيوال جګړې په موده کي سر را اوچته کړ هغه دنازي امپرياليزم وه چي دجرمن تجارو ته دلوټمارۍ اود

غارت زمينه برابر کړل کوم چي تر اشغال لاندی خلک يی وچاپل او د نازی دولت د رامينخ ته کيدو شرايط يی برابرکړ ، دغه د نا زی امپراطوری دومره نا روا او ظالم وه چي داردوگاه څخه خلک اجباري کارته وړل اوبي له دي چي هغوي ته اجوره ورکړي يعنی دهغو دکار نيرو په وړيا بڼی سره تر لاسه کول .

داروپا، شما لی امريکا اودجاپان دامپراتوري قدرت مستقيماْپر افريقا ، آسيا اودلاتيني امريکا پرضد اوپرهغو باندي برلاسې درلود. دوی يعنی دغه امپراتوري په نولسم پيړی کی وليدل چی دريم نړیٔ نه يواځي داچي داومه موادو منابع اوبرده ( دکارنيرو) لری بلکه دکاليو دخرڅلاو دپاره بازارونه هم لري ،همدارنګه په شلمه پيړیٔ کی صنعتي هيوادونه نه يواځي داچي دريم نړیٔ ته د خرڅلاو د کاليو په صادرولوپيل وکړل بلکه کالي ،پانګي يا سرمايه د ماشين الاتو ، تکنولوژی ، پانګي اچونه اود پور په بڼه هغو هيوادونو ته وليږدول اودا سي يی په ډاګه کړل چي مونږ اوس د پانګیٔ د صادرولو اودپا نګیٔ اچوني په مرحله کي داخل شوي يو اودا په دي معنی نه دي چي مونږد پا نګي په اچونو سره غواړو چي طبعي منابع لوټ کړو او يا څه شي په تاراج کي ويسو.

نن دمتحده ايالاتو دامپرياليسم په هکله دنړیٔ دمختلفوهيوادونو خلکو اوځني سياسيي حلقي راز راز څرګندونې کوی اوډيرو بيا په دي نظر دي چي په امريکا کی اصلاْ امپرياليسم وجود نه لري او داځکه چي دمتحده ايالاتو د سردمدرانوله خواامپريا ليسم ديو مشروع مفهوم په بڼه لا تر اوسه پيژندل شوی نه دي اويا داچي د امريکي امپرياليسم لکه د (شوروی اتحاد) اويا د (بريتانيا دنولسم پيړي ) دامپرياليسم په څير نه دي،حال داچي دمتحده ايالاتو په اکثرو پوهنتونونو کي که يو د سياسيی علومو محصل يا محصله وغواړي چی دخپل دتحصيلي دوري د سرته رسولو دپاره دامريکي پرامپرياليسم باندي علمي تحقيقات وکړي او خپل تيزس وليکي هغه ته په هيڅ وجهه اجازه نه ورکول کيږي سره د هغه چي امريکا يو امپرياليستي لوی قدرت دی مګر بياهم د امريکي ډيرو

خلکو دنړي دبدلون غوښتونکي دی  له بلي خوا څخه  که   يو څوک  په دي هيواد کي  وغواړي چي دامريکی پرامپرياليسم باندي خبري وکړي دهغه خبري دامريکي د زورواکانوله خوا پوچې،احمقانه اوايديولوژيکۍ بی مفهوم وينا ګڼل کيږی .

## دپانګی خوځنده (ډاينميک) پراختيا

امپرياليسم تر سرمايه داري (پانګوالۍ) يو زوړ پد يده  دي او  دا ځکه چي دپا رس ، مقدونی ، روم اود مغلو  امپراتوري پيړيو   پيړيو مخکي د Rothschild( دجرمني د يهوديانويوه کورني وه  چی  داتلسم پيړي په وروستيو کي داروپا په  هيوادونو کي  با نکونه پرانيستل) اود راکفيلر له  امپراتوري  اود conquistador   ( په شپاړلسم پيړی کي هسپانيوی لښکر په مکسيکو ،مرکزی امريکا  يا  پيرو کی هندی تمدن ته سقوط ورکړل) څخه موجود وه کوم چي دسره زر (طلا) اود لوړتيا غوښتني سره دزړه ګرمي په لرلو په لوتماري او چپاول بخت اوهرشی دځانه سره وړلي. امپرياليستي پانګوالي له دی مخکيني شکلونو څخه دا توپر اوتفاوت درلود چي په دی اوسني ډول امپرياليستی  پانګوالي کي په سيستيميک بڼې سره د کاردګتي  دترلاسه  کولو  يعنی دکار دنيرو د زبيښاک يااداستثمار د لاري  په واسطه  سره اود پلان سره سم  دنورو هيوادونو  په  بازارونو کي د برلاسي  په لرلوسره   پانګی را ټولوې ، امپرياليستي پانګوالي په نورو  هيوادونوکي  د خپل اقتصاد ،  فرهنګ ، سياسي ژوند ، مالي  اودتوليدې جوړښتونو په يوځای کيدو سره په بين المللي سيستم دپانګۍ دزيرمي  په لټه کی نه ستړی کيدونکی هلی ځلی ترسره کوی .دپانګوالي اصلي اومرکزي دنده اوکوښښ پراختيا غوښتنه دی ، پانګۍ اچونکو ترهغه پوري خپل  پيسي په  تجارت اوبيسنيس کي نه ا چوې ترځوچي دهغو دپانګي اچوني دپيسو ګټه اوسود دهغو داچول شوې پا نګي دپيسو څخه  زيات نه وی ،د زيا تي  ګټي  تر لاسه  کول دپا نګي دودي له کبله تر لاسه کيږی ،سرمايه دارانو د مختلفولارو دپه

کاروړلو سره په دی هڅه اواند کی وی چی څه رنګه کولای شي چي زیاتی پیسې تر لاسه کړي .یوه شي چي باید هیڅکله هیر نشي هغه دادي چي سرمایه داران یواځي او یواځي د سود اود ګټي د لاس ته راوړلود دپا ره غیر پیشبیني شوی مارکیټونه اود خپل رقیبو ډ لو په پیژندنه کي مخکي د مخکي زیا ر با سي نو دهغو هڅه اواند بیا هم د سود اودګټی لاس ته راوړل دی یعنی سودجویی دهغو خوی اوعاد ت یا سرشت دی .

دپانګوالی یا د سرمایه دار دپراختیا غوښتني د ماهیت اودعادت په نظر کی نیولو سره دا سي څرګندیږي چي سرمایه دارانو یا پانګوالو چندان تما یل نه لري چي په کور کي پا تي شي ، تقریباً «۱۵۰» کاله دمخه کارال مارکس اوانګلس داسي توضیح کړی وه چي بورژوازې (غواړي اویا داغوښتنه لري چي دنړی دسطح پرمخ هرچیری لاړشي، هرچیري ځالی جوړکړي ،هرچیري حضور ولري ، هرشي حل وفصل کړي ،هرچیري اړیکی او ارتباطات تامین کړي .....اود خپل تصوراتو له مخي د ځان دپا ره نوی نړی پرانځي ). د لته یوه موضوع چي باید تل په پام کی وسا تل شی هغه دا دی چی د پانګوالی دغه د پراختیا غوښتني ماهیت د نورو ټولنو د مینځه وړلو په اجبار اوپه زور سره دخودکفاخلکو اودورځنی اجوره لرونکو کارګرانو ژوند ته تاوان رسول اوهغوی دخپل ارادیت له حق څخه محروموول دوطنی یا د بومی ټولنو محلی فرهنګ په بازاري ،جمعي اړیکو ، په روزمره مصرف کونکو ټولنو ، کوپراتیفي ځمکی په کرهنیز تجارتی محصولاتو اوکارخانوی فارمونو ،کلی په وړو ښارګوټی اوخودمختاریا آزاد منطقی په استبدادي متمرکزوساحو باندی بدلول اواړول دی .

ددی ډول مثالونو د زرو مثالو څخه یوهم داچي څو کاله دمخه لاس انجلیس ټایم پخپل یوځانګړی راپورکی دبورنیو(Borneo )د منطقی په اړه کوم چي په جنوبی اوقیانوس کی په یوبارانی ګڼ ځنګلی ساحه کي پروت دی خپورکړ ، دراپور ورکونکو شاهدانو دراپور په بنیاد ددي

منطقی بومیٔ اواصلی خلکو کوم چي په دی ساحه کی ژوند کاوه دهغوی په هکله داسی څرګندونه وکړل چي هغوی دخپل بقا او دخپل ژوند د دوام دپاره ښکارکول ، ماهیان نیول ، اوخپل خواړه اوغذایی مواد دنوموړی ځنګل له پیداوارو اوباغ وباغچي څخه تر لاسه کول مګر په تاسف سره باید وویل شی چي دهغو دژوندانه ټولي لاري دځو مقتدرو شرکتونو په واسطه سره وتړل شو او په ډیر بی رحما نه بڼې سره دغه شرکتونه دکلکولرګیودتر لاسه کولودپاره چي دهغه له خرڅلاو ډیر اوچت او چټک ګټی ترلاسه کیږی هغه ځنګل ووهل شول اودهغه اونی ټول پریکړ شول ،دهغوی دهستوګنی ځمکی په یو ناورین چاپیریال واړول شول،هغوی په زورزیاتی اوجبرسره له ټولوحقونواو خودارادیت اوآزادي څخه بی برحه اومحروم وګرځول شول، دهغوسرپناه اوکورونه ونړول شول اوهغوی دی ته مجبور کړل شول چي له هغه ځای څخه کډه وکړی اوبل چیری لاړ شی اود خپل ژوند د تامین د پا ره په روز مزدوریٔ سره هغه هم که ورسره چانس یا ری وکړی اوکار پیدا کړی چی کار وکړی .
دشما لی امریکا اودا روپا ګڼ شمیر شرکتونه دآسیا ، افریقا اود لاتینی امریکادری پرخلورمه برخه پیژندل شوی طبعي معدنی موادپخپل ولکه او اختیار کی لري ، اما دهیواد څخه د باندی دنورو هیوادونو پر طبعي معد ني زیرمو باندی یواځي دپانګوالیٔ د پراخیدو دلیل نشی کیدلییٔ ، بلکه د هغه څه چي ضرورت لیدل کیږی هغه د تولیدي لګښتونو راتیټول اود ګټي لوړول دی کوم چي باید د باندنیو هیوادونو د کار (دکار نیرو) په مارکیټ کی پا نګیٔ واچول شي خصوصاً په هغه هیوادونوکي چي دکار نیروارزانه وی ، نو دهمدې دلیل پربنیاد دامریکا غټ شرکتونه له هغه څه چي په نوموړی هیوادونو کي پانګیٔ اچولی وه دهغه خالص سودد (۱۹۸۵ څخه تر ۱۹۹۰) پوری (۸۴) په سلوکی وه کوم چی ډیر حیرانونکی ګټه اوسود بلل کیږی اوهغه هیوادونه کوم چي هلته د کار بیه ډیر آرزان وه اوامریکایی شرکتونه په هغه هیوادونو کی

پانګې واچول هغه عبارت وه له جنوبی کوریا، تایوان ، اسپانیا او سنګاپور څخه .

په دریم نړۍ کی د متحده ایالاتودشرکتونو ګټی دڅو دلیلونو له مخي نظر نورو مخکی تللی هیوادونو څخه (۵۰) په سلو کی لوړ دی کوم چي دهغه دلیلونه عبارت دی له :د دریم نړی په هیوادونوکي دکارګرو ټیټ اجوره اود ستمزد، ټیټ مالیات ،دکار دبازارسوړوالی ، کمزوری کارګری اتحاد یی د کسب وکار او یا د کارګرانو اود ژوند له چاپیریال څخه نه ملاتړ. اود بلی خوا څخه دلته دیادونی وړ مطلب دادی چي دمتحده ایالاتو یوله ډیرلویو شرکتونوڅخه سیټی بانک دی کوم چی دغه بانک له خپل خارجی معاملاتو څخه چي د دریم نړی له هیوادونو څخه سودترلاسه کړی (۷۵) په سلو کی دی ،ځنی وختونه دامریکی د متحده ایالاتو څوملیتی اویا څوفراملیتی شرکتونه د هیواد په د ننه کی بی له دی چی د خپل پانګې مستقیماً څارنه په خارج کی له نژدی څخه وکړی ضمني اویا جنبی پُس ګټی هم له دریم نړی څخه تر لاسه کوی چی په درامتکی بنې سره دهغو د ګټي ګراف پورته وړی . دغه فراملی ( transnational ) شرکتونه د ټول نړۍ د ا ړتیا ترلیکه پوری خپل تولیداتو ته پراختیا ورکړی دي ، مثلاً دجنرال موتورشرکت کوم چي دموټرانو اود ټرکونو اودموټرو دپرزو دتولیدولوفابریکي دنړی په ګوټ ګوټ لکه په کانادا ، برازیل ، ونزویلا ، هسپانیه ،بلجیم ، یوګوسلاویا ، نایجیریا ،سنګاپور ،فلیفین ،جنوبی افریقا ، جنوبی کوریا اوپه ځنو نورو لس ګونو هیوادونوکی لری،نوموړی شرکت یاکمپنۍ ته داتوان وربخښلي دی چي که چیری ددی نوموړی هیوادونو د یوهیواد دموټرجوړولو دفابریکی کارګرانو په اعتصاب بانديِ لاس پوري کړی اود موټرو دتولیداتو مخکی پلان شوی کچه را ټیټه کړی ، نو د دی فابریکی د موټرو دتولید دټیټ کچي نقص دهغه بل هیوادموټرو دکارخانی دتولید دکچی په پورته وړلوسره له مینځه وړی اوپه دی ډول له یوی خوا خپل مخکی تولیدی پلان بشپړوی اود بلی خوا څخه د کارګرانو د اعتصاب

اود اجوري د لوړیدو مخه نیسي یعني په دی تشویش کی نه ولویږی چي د نوموړی شرکت دموټرو د تولیداتو پیمانه را ټیټیږی یا په بل عبارت د کارګرانو اعتصاب ته هیڅ اهمیت نه ورکوی او هڅه کوی چی دکارګرو د اتحاد یی د ستراټیژی مخه ونیسی او لا پسی کمزوری یی کړی .

## حتمي نه دي يواځي مجبوريت دي

ځنو لیکوالو پوښتني کوی چي ایا امپریالزم دپانګوالی دپا ره یوه ضروری شرط بلل کیږی ، اوپه دی اشاره سره چي غربی پانګوالۍ کوم چي په غربی هیوادونوکی پانګوالۍ کړی دی په دریم نړی کی پانګوالۍ نه دی ؟.اودبلی خواڅخه که چیری غټو پانګو اچونکوشرکتونو خپل ټول اچول شوی پانګۍ په دریم نړی کی دلاسه ورکړی دهغو استدلال په دی برخه کی څه دی ؟ هغوی داسي استدلال کوی چي دوی داروپا اود شما لي امریکا بازارونه ترخپل ولکي لاندی لری اوکیدای شي چي بی له امپریالیستی شرایطواو ښیګڼوسره ژوندی پاتی شی ولی دوی دا ډول برخه لیک نه غواړي اودی ډول برخه لیک ته هیڅ رغبت نه لری اوهیڅکله نه غواړي چي دغه ستری ګټی اوسود کوم چي ددریم نړۍ څخه ترلاسه کوی ځان بی برخه کړی او یا هغه ګټی لری وغورځوی . ممکن دی چی امپریالیزم دسرمایه ګذاریا دپانګی اچونکۍ دبقا دپاره یوه ضروري شرط ونه اوسیږی ،مګر په هر صورت داسی په نظر راځی چي امپریالیزم یوه ذاتی رغبت اود مخکی تللی پانګوالي یوه طبعي پایلی دی یا سرشتی پا یلی ګڼل کیږی.امپریالیستی روابط اواړیکي ممکن دي چی یواځي دګټی دلاسته راوړو دلاری تعقیبول اویا ورپسی کیدل ونه اوسی ،مګردالاره له هراړخه ډیرستر ګټه راوړونکۍ لاره شمیرل کیږی ، داچي امپریالیزم د سرمایه داري دپاره حتمی اویا ضروري دی په واقیعت کی هیڅ دپوښتنی اودسوال کولوځای نه لری ، اوهغه داچي ډیر داسی شیان دی چي هغو ته اړتیا نه وی حال داچي

هغه شیانو ته بیا هم د غوښتلو رغبت شته اویا داچې دِغوښتنې مطلوب او وړشیان دی ،نوپه همدی بنیاد په قوت سره ترهرڅه نه مخکی سود راوړونکی شرایطو ته لمړیتوب ورکول نابېره اواجباراً د فوق العاده ګټې اودسود راجلبونه دی کوم چې ممکن د سرمایه دارۍ دبقا دپاره ضرور ونه ګڼل شي ځکه چې بقا یواځې تول دا نه دی چې په هغه کې د پانګوالې زړه ګرمي اوعلاقه موجود اووسی ، پوره او فوق العاده سود کوم چې هغه ته باید لمړیتوب اوارجحیت ورکړل شی هغه مینځنۍ یا وسطی سود اوګټه دی اوضرور نه دی چې دغه ډول وسطۍ سود دامپریالیزم اود سرمایه داری تر مینځ اووسی اوهغه په دی معنی هم نه دی چې هیڅ قانع کوونکې اړیکی په مینځ کی موجود ونه اوسی

په نوروخوځنده اوډینامیک ټولنوکی هم همدا شان ورتوالی اومشابهت موجود وی د مثال په توګه : ثروت یا پانګې حتمي او ضروری نه دی چې د لوکس ژوند موجب وګرځی ، د دولتمندانو اود پانګوالوډیری برخی یاشمیر له دی نه چې خپل سرمایه په شخصي بنې سره پرځان ولګوی یا یی مصرف کړی ترجیح ورکوی چی خپل ثروت په تجارت اویا په مضاربت باندی واچوی ، بل مهم ټکې چی دلته باید له هغه څخه یادونه وکړو هغه دادی چی ډیردولتمند اوښه بډاکوم چی دهغه دپانګوالې ژوند اوبقا ډیر اوږد اود زیا تی مودی دپا ره وی هغه څوک دی چي پخپل کموپیسو سره په دوامدار ، تتدریجی اوپه متوسط شکل سره سود تر لاسه کړی اما دا نه دی معلوم چي څه شمیر پانګوالان دی ډول مضاربت او تجارت ته لمړیتوب ورکوی ، مګر په تاریخې لحاظ داسی په ګوته شوی چی دولتمندان اوپانګوالی تل دښه شیانو دلاسته راوړلو په لټه کی شوی اوغوښتلی چی دنورو خلکو د ښه ژوند ښه شیان اودهغو دکارمحصولات تر لاسه کړی ،له هر ډول شاقه کارونو څخه ځان فارغ وسا تي ، له وخت څخه ګټه تر لاسه کړی ، صحی مراقبتونو ته لاس رسی ولری ، زده کړه ،سفر، تفریح وکړی اود خپل قدرت اود نفوذ د لوړولو دپاره کافی وخت ولري چي له نورو انسانانو څخه د هغو ښه

شیان تر لاسه کړی . په واقعیت کی که ددی شیانو ضرورت هم ونه لیدل شی مګر دلته یو ډله شاهدان کوم چي د دولتمدارانو له طرفه استخدام شوی هغوی په ډیر علاقه او تلوسې سره د سود وړونکئ طبقی ناوړه اقداماتو با ندی هغه وخت برغولي ایږدی کله چي ثروتمندانو ددموکراتیکو قوتونو دتهدایداتو سره مخه شی .

د نه پرمختګ افسا نې : د آسیا او د لاتینې امریکا ځمکی او هیوادونه کوم چي مونږ ټول پر هغه پوهیږو د(دریم نړی ) د هیوادونو په نامه یادیږی چي د اروپا اودشما لی امریکا د صنعتی (لمړی نړی ) هیوادونو څخه په تشخیص سره بیلیږی مګر په اوسنی وخت کی تر یوحده پوری دغه نوم یعنی (لمړی نړی ) د کمونیستی هیوادونو په پرتله سره دمینځه تللی او اوس د (دوهم نړی) هیوادونو په نوم سره یادیږی،ناداردریم نړی هیوادونوته ( underdeveloping ) هیوادونه یا نه پرمخکی تللی هیوادونه وایی ، داروپایی داکثرو ناظرانو سره په تاریخی لحاظ دا سی نظر موجود دی چي دغه نادار دریم نړی هیوادونه نادار ساتل شوی اوداسی انګیرل شوی چي ددوی ځمکی حاصلخیز نه دی او د هغه خلکو هم ښه تولید کونکې نه دی . دا له سره ټول تهمت اوهیڅ حقیقت نه لری اودا ځکه چي د آسیا ، افریقا اود لاتینی امریکا ځمکی له ډیرو پخوا زمانو څخه لاتر اوسه دغلی دانې ، مینرالونو ، اودنورو طبعي زیرمو د تولید اصلنې او لوی ګدام او دډیرو غني طبعي موادو هیوادونه دی ، دا چي اوس دغه هیوادونه نادار اویا کم بغل شمرل کیږی د اروپایا نو له خوا په پرله پسی بڼې سره لوټ شوی دتاریخی روایاتو له مخی ،همدغه اروپایان وه چي دلوټماری دپاره دغه هیوادونو ته د مختلفو پلمو سره سفر کول او هغوی یعنی دریم نړی هیوادونه غارتول ، نو ددی هیوادونو د کمزورتیا او د بیرته پاتی کیدو اویا د ناداری اصلنی سبب اوعامل یواځی اویواځی دهمدی اروپایانو پواسطه سره دهغوی دشتمنیو چور ، چپاول اوغارتول وه اوبس .

ددریم نړۍ دطبعی زیرمو ضبط اومصادره کول دهمدی اروپایانو په واسطه سره له څو پیړیومخکی پیل اولاتر اوسه دوام لری ، استعمار لمړی له هر څه نه د مخه دسره زرو، سپین زرو ، دوایی مواد اود وریښمینو په راایستلوپیل وکړاوبیا وروسته دغه لاندی اقلام له نوموړي هیوادونو څخه خپل هیوادونو ته ولیږدول چي عبارت دی له : کتان ، لرګی ، ګوړه، شکر ،رم ( rum یعنی له ګنیو څخه شراب )،لاستیک ، تمباکو ،دپنبی ارزان قیمت ټکران ،کاکوو ،کافی ،مس، دسکاره ډبری ، دخرما غوړی ، قلعیی ، عاج ،اینوس او وروسته بیا ، زنک ، منګانیز، سیماب ، پلا تینیوم ،کوبالت ، bauxit ، المونییوم اویورانیم .اوهیڅوک پری سترګی نشی پټولی چی نور شیان یی هم همدغه اروپایان وه چی له دریم نړی څخه وروسته له مصادره کولو رااویستل حتا تردی حده چی دهغو ملکونو څخه انسانان یی هم دقاچاق په بڼه دخپل نوکری دپاره قاچاق کړل اودهغو دکارمحصول ترلاسه کړل .

له پیړیورا په دی خوا استعمار خپل لاسته راوړې تجربی او تیوری دامپریالیسم په چوپړ کی اچولئ دي . ما ته په ښونځی کی ځما استادانو داسی درس راکړي وه یا می له حپل درسونه څخه دا را زده کړي وه چی په استوایی او ګرمو هیوادونو کی دهغه ملکونو خلک دهوا دګرمی له امله سست ، بیحال اود کار کولو توان نه لری اویا داچي بیکاره او لټ دی ، مګر بی ویلی دی پاتی نشی چی همدغو خلک سره دګرم اومعتدل آب وهوا په لرلو دخپل کار اوزحمت سره کولای شوچی قابل د ملاحظی تولید وکړی ،هغوی مخکی د مینځنی پیړی څخه یعنی کله چی په اروپا کی تمدن پلی کیږی لرونکی د ډیر غښتلی ، لوی اودباغظمتو تمدنونو لرونکی ملکونه وه چي په نړۍ کی ساری نه درلودیاداچی هغه وخت اروپالاویده وه اوله تمدن څخه بلکل بی خبره وه، د اروپایانو د خبروبرعکس همدغه د دریم نړی خلک دي چي اوس هم د اوږدو ساعتونو سره ډیر شاقه کارونه د ډیرو لږو دستمزد او اجوری سره تر سره کوی، مګر بیاهم داروپایانو په نظر همغسي

چی ورته ویل شوی ددریم نړی خلک د (لټ بومی ) په نوم یاد وی ، دبلی خوا دویلو بل مطلب دا دی چي په هر سرمایه داری ټولنو کی نادار اوفقیر څه په د ننه او څه په دی باندی کی ترسترګوکیږی چی په منظم او په پرله پسی بڼی سره له خپل روزګار او ژوندڅخه شکایت کوی اویا ګلیی لری .

مونږ لا تراوسه اورو چي ددریم نړی خلکو له فرهنګی لحاظ یعنی له ادابو ، دودونو ، اود فنی اوتخنیکی توانایی اوغښتلتیا څخه بیرته پاتی اومحروم خلک دي غربی پلوپانګوالی مبلغان دهمدی عنوان تر سرلیک لاندی په دی پلمه چي سرمایه داری دغه ټول فرهنګی بیرته پاتیوالی یا عقب ماند یګی دزړه په اخلاص سره د خپل عملیات نجات په واسطه سره د مینځه وړی په نوموړی هیوادونو کی سرمایه ګذاری کوی اودغربی تمدن د راوستلو نغاری ډزوی ، دا د فرهنګی بیرته پاتیوالی قصی اوافسا نی تیری زمانی بیا په یادونو کی ژوندی کوی چی د هغه زمانی فاتحان د نوی تمد ن دپلی کولو تر شعا ر لاندی د نورو ملکونو خلک په برده ګۍ او غلامی نیول کوم چي په دی پنځه پیړیو کی اروپایی ا ستعمارګرانو د خپل مقا صدو د پلی کولو د پاره ورته نغمی غږوی او د سود اود ګټی د ترلاسه کولو دپا ره په دی پلمی سره لاره ځانته اواروی .

هسي چې اروپايان ادعا کوي چې مونږدلوړو او عالي فرهنګ څښتن يا ستو ايا دا به ريښتيا وې ؟ لکه چي ټولو ته معلوم دي اروپا له پنځلسم نه ترنولسم پیړیو پورې دیولړ ناخوالي په سر کي پروت وه ، اوله راز راز بدو حالاتو اوناوړو ستونزو څخه لکه بی شمیر اعدامونه ، قتلونه،له خشونته ډک جرمونو،بیل بیل نار وغی لکه مقاربتی مرضونه ، کویی ( چیچک) محرقه (وچکي) توبرکلوز، طاعون او له ځني نور ناوړي مصا بیتونو ، ټولنیز نابرابري، فقر (نیستې هم په کلو او هم په ښارونوکي ) دښځو اود ما شومانو غلطه درملنه په پرله پسي بڼي سره قحطي ،برده ګي فحشا مذهبی قتل العام ، مذهبی شکنجې اود مذهبی

باورونو تفتيش څخه پوره رنځ وړل .پس هغو چي د داسي لوړ فرهنګ ادعاکوي نوپورتنۍ ناخوالي اوستونزي کوم چي اروپايان پرهغو باندي اخته وه د يا ده بايد دی ونه باسي .

هغه څه چي مونږ بايد هغه په ډير جدي بڼي سره په پام کی ونيسو هغه دادي چي اروپايان کوم چی هغو ته وويل شي چي تا سي له هوايي اوله جنګي تسليحاتو څخه په شمول دموشکی ،ټانک ، ماشيندار،جنګي کشتي ، توپ دارکشتۍ اود نن ورځي مزايل ، هليکوپټر تسليحاتي لوی کشتي اوبمب غورځونکي طياري کوم چی په يوه پريکړي سره شرق په غرب اوشمال په جنوب سره دډزو په ګذار نه د لوړ اوعالي فرهنګ سره نښلوی ډير خوشحاليږي اوهمدغه عوامل دی چي د اروپا اوشمالي امريکا لوړتيا غوښتنه يي تر ننه پوری سا تلی اوداسی فکر کيږی چي دغه برلاسي يواځی په زور سره نه دي ساتل شوي بلکه نور اضا فی د سييي هم پکار وړل شوي اولاتر اوسه پکار وړل کيږي .

دبلی خواڅخه دخلکو په مينځ کي داسي ويل شوی وه چی تر استعمار لاندی خلک نسبت استعمارګرو مخکی تللي خلکو څخه د بيالوژيکی له نظره بيرته پاتی خلک دی اود هغو د (وحشيګری) اود فرهنګ دودی دسطح (ټيټوالی)ايادهغه سبب دهغو دجنټيکی دودی دټيټوالی نښي نښاني دي کوم چي هغوي دټيټ فرهنګ په لرلو سره نومول کيږي ؟ دا بلکل يوغيرعلمی اوبی بنياد حکم دی چي هيڅ د منلو وړ نه دي ، په اوسنی زمانه کي هغه څه چي په ځنو نورو ډيرو برخو کي په نظر نيول شوي دي ،ددريم نړی خلکو ډيردپا ملرنی وړمهارتونه لري،لکه په معماری ، ښوالي، لاسي صنايع ، ښکار ، کب نيول ، قابلګی ، پرستاری ،طبابت ، اوداسی نروشيانولکه په ادابو،معاشرت،دودنو،اجتماعی رسم اورواجونو کي ډير انسانی اودترحم وړ سلوک لری له هرډول خودخواهی ، تکبر ، ظلم اوډير نوربدو عاداتو څخه پاک خلک دی کوم چي اروپايانو په مخکی زمانو کی د داسي ښه سلوکو اوبرخوردونو څښتن نه وه ،اما مونږ بايد په تاريخي لحاظ ددغه بومی ټولنو ځني ځني دهغو چی

لاتراوسه بیرحمانه او غیر معمول چلن چلوی ډیر جدی ونه نیسو شاید
چي هغو  په اقلیت کی وي ، حال داچی  په کلي ډول ددریم نړی خلکو
سالم برخورد لری  لرونکی د  هوسا ژوند ، خوش طبع ، دخپل فراغت
شیبي  په خوشحالتیا اوسرگرمی سره تیروي  اود  ډیرو زیا تو اروپایان
په نسبت دژوند دلوړ کیفیت څخه  برخوردار دی  چی  اصلاً  اروپایان
دهغسی هوسا،بی تکلف اوښکلی ژوند څخه لا تر اوسه بی برخي دي .
نورستر نظریی اوباوردپیسو یاد کرنسی  (پول)  پراخه چلن دی ،.
مونږ اورو یا  مونږ ته  اورول کیږي  چي په دریمه نړي کي دفقر اود
ناداری سبب اوعلت دنفوسو زیاتوالي دي کوم چي هغوي له  منل شوی
حده څخه زیات کوچنیان  لری  چی  ډوډۍ  اوخوراک  غواړي.اما په
واقیعت کي په څو تیرو پیړیو کي  د دریم نړۍ  په اکثرو  هیوادونو کی
د نفوس شمیره په هر هکتار ځمکه  کي مثلاً د هند نفوس  په هر هکتار
ځمکه کي دځنو اروپا یی هیوادونوپه پرتله کمه وه،اما فقر او تنگد ستي
دهالند ، والز، انگلستان ، ژاپان ، ایتالیا  اودځنو نوروصنعتی  هیوادونو
په نسبت زیا ته وه ، اود دی فقر اوتنگدستي سبب اوعامل دا دی چی په
اوس اوس وخت کي  د نړۍ تقریباً (۸۰)  په سلو کی زیرمی  د همدی
صنعتي هیوادونو په ولکی کي دي کوم چي دنړی د پاره دایکولوژی له
نظر په راتلونکی  کي لوی گواښ گڼل کیږي .
دا پخپله هیڅ دانکار وړ خبره نه دي چی دنفوس زیاتوالي ددي  خاکي
سیارې دپاره پرابلمونه اوغټ ستونزې زیږوي ، او دا  هم  ریښتیا  دي
چی  په ټول هیوادونو  کی د نفوس دودي  محدودول  یا راټیټول دنړۍ
دخلکو ژوند اود ژوند دچاپیریال  دپا ره ستر گټي رسوي ، مگر بی ویلو
دی پاتي نشي چی د نفوس  کموالي  پخپله  نشي  کولاي   چی  دناداري
ستونزي حل کړي ،اوداځکه چی زیا ت جمعیت پخپله دناداري  سبب یا
عامل نه دي اما بی له تاثیر هم نه وي ،  بی وزله  اونادارہ  کورنی  په
دي لټه کي  وي  چی  لوی  اوغټ کورنی اوزیات کوچنیان ددي دپاره
ولری چي د زړښت په عمر کی دهغو د کاراود عاید څخه هوسا ژوند

ولری.

فرانس مورو لیپ ( France Moore Lapp) او راخیل شورمن ( Rachel Shurman) دنړۍ له (۷۰) هیوادونو څخه شپږ هیوادونه لکه چین ،سریلانکا ، کولمبیا ،چیلي ، برما،کیوبا اودهندوستان د کرالا ولایت یی وموندل کوم چي هغوی دتولداتو دگراف دښکته کیدو د پا ره دپوره هلی ځلی سره ښه بریالیتوبونه تر لاسه کړی اویا لاسته راوړنی درلود مګر هغوی سره دهمدی لاسته راوړنی بیا هم په درامتیکه ښی سره ونشو کړاي چي صنعت ته وده اوپراختیا ورکړي اود هر نفر پر سردعاید اندازه لوړکړي اوهم ونشوکړاي چی فامیلی پلاننګ ته پراختیا ورکړی . دنوموړي هیوادونو غټه ستونزي اوپرابلمونه د عامه خلکو تعلیم ، صحی مواظبتونه ، د اقتصادی نابرابری ټیټوالي ،دښځو دحقونو سمون دخوراکی موادوسره مالی مرسته ،اوپه ځنی مواردوکی د ځمکی اصلاحات یا په پل عبارت سره د باروری (Fertility rate) دمیزان ټیټوالی دی کوم چی پورتنی ذکرشوی ستونزي په سرمایه ګذاری اویا داقتصاد په پرمختګ او ودي سره نشي حلید لی اویا داچی د وتلو لاره نشی پرانیستلیی بلکه له دی ستونزوڅخه دوتلولار اقتصادی –اجتماعی سمون دښځو په ګډون اودهغو دحقونو په مراعات کولو سره کیږي حتی که په مینځنی پیمانه هم وی .

## په زوره سره خلک په بی وزلۍ باندي اړول

هغه څه چې د « نه پرمختګ » په نوم باندی یادیږي دتولنیز اړیکو له مجموعي څخه عبارت دي کوم چې په زور او فشار سره د پیړیو په اوږدو کي تحمیل شوي ، دغرب د استعمار په پیدایښت او ظهور سره ددریم نړی خلک په واقیعت کي دپرمختګ څخه پر شا شول چې دزما نې له لحاظه پیړیو پیړیودوام وکړ. مثلاْ د بریتانیا د امپریالیزم کارنامی په هندوستان کي دیوی ژوندي او ښکا ره مثال په ښه کیداي شي چي په نظر کي ونیول شي :په کال(۱۸۱۰) کي هندوستان انګلستان

ته په پرتله دانګلستان هندوستان ته زیات نساجي ټکران صادرول ،اما په کال (۱۸۳۰) کي هندوستان اود انګلستان تر مینځ دتجارت موضوع بد له او سرچپه شو اوهغه داچي انګلیسانو د هندوستان نساجی ټکرانو اونور صادراتی اقلامو باندی تعرفه یا ګمرکی محصول په یواړخیز بڼی سره لوړ کړ اوپه دي ډول د هندوستان دصادرا تي موادو په مخه لوی بندیز ولګول چی دهمدي بنډیز له مخې دهندوستان صادراتی مواد دهندوستان دننه په ګدامونو کی انبار شول او په باندنیو مارکیټونو کی لاره پیدا نکړل ،اودبلي خوا څخه دانګلستان نظامي قوتونه کوم چی د توپ دارو کشتیو له طرفه یی ملا تړ کیدل دکال دمهم موضوع تر سر لیک لاندی په نظامی مانورونو پیل وکړل ترڅو چی دهندوستان خلکو ته خپل نظامی زور اوقدرت وښيي اوپه دی شان یی د ډکی اود مداراس لوی نساجی ښارونه یی دمړو د ارواح په ښارونو واړول ، هندوستانی بزګران یی بیرته کروندو ته ولیږل چی پنبي وکري اود پنبي محصول لوړ او بیا د انګلستان نساجی فابریکی ته ولیږی چی هلته ورځنی رنګارنګ ټکران اووبدل شي ، اوپه دي شان سره هندوستان د انګلستان دسرمایه دارانو له خوا په یو شدی ورکونکی غوا باندي واړول شول . دهمدی راکړي اوورکړي په پروسه کي په کال( ۱۸۵۰) کي دانګلستان پورپرهند باندي(۵۰)میلونه پونډ ته ورسید ،د(۱۸۵۰) څخه تر(۱۹۰۰) دهند دهر سړی کلنی عاید دوه پر دری واره ټیټ شول ، د اومه موادو اود نورو صادراتی اقلامو ارزش د (۶۰) میلونو کرهنیز اوصنعتی کارګرانو د کلنی ګټی په پرتله چی د نولسم پیړی په موده کی په فشار سره انګلستان ته لیږدیدل زیاته وه ، نو په دي شان سره د هندوستان خلک په کتلوی بڼي سره ټول بی وزله شول کوم چي دهندوستان په تاریخ کي داسي پیښي نه وه راڅرګند شوي ، د بریتا نیا امپریالیزم پرهندوستان باندی دوه ډیر لوی مصیبتونه راوړل : یوداچی دهندوستان د پرمختګ مخه يي ونیول اوبل داچی دغه هیواد یی دنه پرمختګ ( underdevelopment) هیوادونو په قطار کی ودرول .

همدا شان ورته ويني بهيد ونکې پيښي اوجريانونه په دريمه نړۍ کي را پيښې شوي دي . يعنی له نوموړي هيوا دونو څخه لوي شتمنۍ اوثروتونه غارت او لوټ شوي دي ، مګر دياده موبايد ونه وځي چي ځني هيوادونه په ريشتيا سره چي نادار اويا بی وزله وه اما ځني نور هيوادونه لکه :برازيل ،اندونيزيا ،چيلی،بوليويا،زاير،مکسيکو ، ماليزيا، اوفليپين دطبعي زيرمو د لرلو په نسبت ځنی وختونه لا تر اوسه شتمن پاتی شوي دي ، مګر دځنو نورو هيوادونو ټول شتمنۍ په هر اړخيز ډول سره په چپاول او په غارت وړل شوي دي . نو په دي بنياد ددريم نړی اکثر هيوادونو نه دا چی نه نا منکشف (underdeveloped) وه بلکه دغربی استعمارګرانو او دپانګوالو په واسطه سره زيات ا ستثمار (overexploite) شوي اونه داچي دهغو د ژوند ستاندارد پورته وړل شوي بلکه دهغو د ژوند ستاندارد ځو ځو ځلي ښکته راغلي دي .

دهغه څه په اشا ره چي د انګليس استعمار څه نه وه چی دآيرليند پرخلکو ونکړل ، فريدريک انګليس په ( ۱۸۵۶) کال کی دآيرلند دخلکو په اړه داسی ليکی : (هريوځل کله چی آيرليندديانو غوښتي دي چي يوشي لاسته راوړي په هروخت اوهرځلي کي څه د سياسيي اوڅه د صنعتي برخوردونو سره په تصادم کی ولويدلۍ دي اوپرهغو باندی ناروا ، ظلم اوستم شوی دي او په لوی لاس سره قصداً په يو نادار اوغريب ملت باندی اړول شوي دي .) په همدي شان ددريم نړۍ نور هيوادونو هم دهمدي ډول برخه ليک سره مخامخ شوي دي . هندی مايان ( په شپاړلسم پيړي کي هندی مايان «Mayan » په مرکزی امريکا کی يوه امپراتوری وه :مترجم ) په ګواتيمالا کي کوم چی په شپاړلسم پيړی کی يوامپرتوري وه دهغه خلک لرونکی دمغذی موادو ، رنګارنګ خواړه ، دژوند اود روغتيا ډير ښه شرايط درلودل ، ترهغه چي اروپايانو کوم چي اوس اوس ورته رسيد لي دي ، هغوي ښه معماران ، صنعتګران ، ګلکا ران ، ښوالان دننی په پرتله لا غښتلی

درلودل ،هغه څه چي د نه پرمختګ (underdevelopment) په نوم يادېږی دا پخپله د امپرياليزم محصول اوسوغات دی کوم چی ددريمی نړي خلکو له حده زيات دهمدی امپرياليستي قوتونو له خوا په ډير لوړ کچه استثمار(super exploitation) شول اولا پسي استثماريږي ، نه پرمختګ خپله يو انکشاف اويا پرمختګ دي .

امپرياليزم هغه څه شي راوزيږول چي زه هغه د ناقص پرمختګ (maldevelopment) په نوم سره يادوم اوهغه داچي په عوض ددي چي دنادارو اوبی وزلوخلکو دپا ره سرپناه يا کورونه جوړ کړاي وايی دلويو ښارونوپه مينځی کی مدرن دفترونه اولوکس هوټلونه جوړ کړل ، يا داچي بايد دکارګرانو اوزحمت کشانو دپا ره شفاخا نی اودرمل ځايونه جوړکړای وايی د هغه په عوض د ثروتمندانواو سرمايه دارانو د پاره دتزين اويا دښکلا جراحی کلينيکونه اوسمبال ځايونه جوړکړل يا له دي نه چي محلي مارکيټونو ته غذايی موادبرابرکړای وايی دهغه په عوض د تجارت د پا ره د نقدی پيسي په صادرولولاس پوري کړ تر څو چي کرهنيز محصولات له با ندی څخه تر لاسه کړی ، يا داچی خلکو ته اسانتياوي برابر کړای وايي چي وشوکړاي ډاکتر اويا معلم ته پوره لاس رسي ولري د هغه پرځای لوی لاری ، دلويو بنادرو ، معدنونو ، اوتصفيه خا نو پوري پرانيستل چی له هيوادونو څخه په اسانی سره دراکړی او ورکړی اود تجارت د ودی او پرمختګ دپا ره لا پسي ښه شرايط چمتوکړی .

ددريم نړی له خلکو څخه ثروت اوشتمنی داروپا اودشما لی امريکا کارپوه اقتصادی کړيو ته ( په دی تازه وختونو کی جاپان) انتقال وموند يا ولیږدول شو، دیادونې وړمطلب دادي چی جاپانی پانګوالو په مستقيم بڼي سره ددريم نړی دطبعی زيرمو دسلب ماليکيت اود مصادري په لټه کی نه ستړی کيدونکی زيارباسي،دبل طرفه ددريم نړی په هيوادونوکی لوړ ماليات ، د ځمکی لوړ اجا ره ، دنادارو اود بی وزلو د دستمزدو

اوداجوری ورکړه یا تادیه اوداجباری تمام شوي کاليو ياالجناسو واردات اومتورم شوی قیمتونه هغه نا سم چلند دی چی تر استعمارلاندی هیوادونه یی دغتو ستونزو سره مخامخ کړي دي ،اودپانګوالي حاکمیت دغه دریم نړی هیوادونو ته دا چانس نه ورکوی چي هغوي پخپله له موجوده فرصتونو څخه کار واخلی ،پخپله خپل تجارت ،خپل مارکیټونه سمبال کړي،خپل بی روزګارخلکو ته دکار زمینه برابره کړي ، اوخپل صنعتيي ظرفیتونو ته وده ورکړي . نو دهمدي ستونزو په موجودیت سره دي چي دبي روزګارو د ستمزدو کارګرانو شمیر د (۱۹۷۰ ) نه تر (۱۹۸۰) پوری له (۷۲) میلیونو څخه (۱۲۰) میلیونو پوری رسیدلي اودهر ورځی په تیریدو سره قمیتونه لا پسی لوړیږي اودهغو شمیر نور هم زیاتوي .

ددریم نړي په سلونو میلینونو خلکو په کلو وباندو و لرو پرتوو متراکموساحو ښارونواو ښارګوټوکی په ډیرغریبي اوناداري په رنخونو ، ناروغیو، بی سوادیو ولوږو اوتږو سره اخته دناامیدی شپي اوورځی تیروي ، اکثر هغه ځمکی او کروندی چی مځکی هلته کرهنیزي ځمکی وه اوخلکو هلته یوي کولی اوس د غتو تجارتي شرکتونو په ولکه کی ولویدلي اوهغوي دخپل تجارتي مالونو د پاره دقهوي ، شکرو ، دغوا اودغواییو دغوښو ګدامونه اوسرد خا نی جوړ کړي دي ، اوبومي خلکو ته اجازه نه ورکوي چی هغوي د خپل داخلي اړتیا او ضرورتونو دپوره کولو اوسرته رسولو دپاره هلته لوبیا ، وریجی ، اوجوار وکري ، دهغه مطالعې څخه کوم چي په شلو نادارو هیوادونو کي تر سره شوی یوډله خلکو په ګوته شوي دی چی د مطلق نادارو یا بي وزلو خلکو په نوم نومول شوی دي کوم چی دتیګوترلاندي په ډیرناداري سره ژوند تیروي اود دوی له مینځه بیا یوه بله ډ له په ګوته شوی چي له نادارو څخه لا پسي نادار دي کوم چي دهغو شمیر هره ورځ (۷۰۰۰۰) نفرو ته رسیږي اودرسمي احصا یی د پیشګوي له مخي ددی خلکو شمیر به تر دوه زرم کال پوري به (۱،۵) میلیونو ته به ورسیږي (دسانسفراسسکو

داحصای ګیری له مخی (۸) جون کال ۱۹۴۴).
دااميرياليزم دي چي دنړۍ په کوز اوبرکي دميلينونو کوچنيانو ژوند د ډير شديد اوبي سا ري استثما ر له وجهي دډار او خپګان سره مخامخ کړي کوم چي د دي کوچنيانوزيا ت شمير خپل روحي اوجسمي توان او روغتيا يی حالت دلاسه ورکړي دي ،داپريل په ( ۲۴) کال (۱۹۹۴) کي دديسکوري په تلويزيونی کانال کي يو مستند فلم دروسيې ، تايلند اود فليپين دهيوادونو په اړين وښودل شو کوم چي په نوموړي هيوادونو کي زيات شمير قانوني عمر ته نه رسيد لي کوچنيان د فحشا اود جنسي تيرۍ دپا ره خرڅول کيږي يا هغوی د خرڅلاو د پاره چی وشي کړی دخپل کورني ژوند وسا تی اود نيستي دلاسه خپل ژوند دلاسه ور نکړی د مجبوريت له مخي چمتو کيږي چي خپل ځان خرڅ کړي. همدارنګه په هند ، مکزيک ، کولمبيا اومصر کي په زور اود شکنجي په ورکولو سره کوچنيان کار کولو ته هڅول کيږی چي دخپل روغتيايی حالت په دلاسه ورکولو سره سره له سهار وختي څخه تردشپو نيما يي پوري په هر ساعت کي دڅو سکو ( Pennies) داجوری په اخيستلوسره په کرهڼيز فارمونو اوکارخانو کی له توانه پورته کار وکړی د لوبی ، زده کړه ، او د صحي مراقبتونو څخه محروم اويا داچي لاس رسي ونه لري .
په هندوستان کي له (۵۵) ميليونوکوچنيانو څخه زيات شميردکاريا بی ددلالانو له خوا په طاقت فرسا او شاقه کارونوګمارل کيږي کوم چی دڅلوروکلنودپا ره دکاردتړون په لاس ليک کولوسره نوموړي کوچنيانو په ډيرګرمه هوا کي چي دحرارت درجه تر سلو پوری رسيږی دسها ر له پنځوبجوڅخه دشپي ترناوخته پوری دشيشه سازی په فابريکوکی کار کوي کوم چي زيات شمير دغه کوچنيان په امپيزيما (empyesemia) ، توبرکلوز اودسږي په نورونارغيو باندي اخته کيږی اوخپل سلامتيا دلاسه ورکوي په فلپين اوما ليزيا کی شرکتونه په دی لټه کي دی چي دکاردپاره دعمر دمحدوديت قانون له مينځه ويسي يعنی د ګټي دتر لاسه

کولو په لټه کې دشر اودفساد دزیږولو په لټه کی دي.

## دانکشاف یا دپرمختګ تیوري :

کله چي مونږ یوهیواد د( نه انکشاف یا فته )اویا د نه پرمختګ په نامه سره نوموو یا یادوو ، مقصد دهغه هیواد د بیرته پاتیوالي اویا د بیرته پا تی سا تلو څخه وي ، اوهغه داچي دهغه هیواد خلک دوږاندی تګ دپاره ډیر کم ظرفیتونه ښيي یا په ګوته کوي . د(نه انکشاف یافته) منفی او ضمنی استدلال د دی موجب شوي چی ملګری ملتونو اود والستریت ژورنال اومختلف سیاسیی احزاب داجبار له مخی ددریم نړۍ هیوادونو (په حال دتوسعه)ملتونه یاد کړي چي یوه په اصطلاح توهین امیزنظر (انکشاف نایافته)بلل کیږي یعنی دی ډول نوم ته بربنډه یوناسم اوګمراه کونکي وجهه تسمیه ویلی شو،زه بهتر ګڼم چی نوموړي هیوادونه د د( دریم نړي) په هیوادونو یادکړم اوداځکه چی نوموړي هیوادونه د (پرمختګ په حال کي ) یواځی اویواځی د بیا ن دښکلا یا د حسن تعبیر له مخي ( د نه انکشاف یافته اصطلاح پکار وړل شوي چي د څه کولو پیل اوس دهغه په ارتباط بیخي ناوخته دي ) کوم چي که چیري بیا ن شي لکه هغسي چي تر اوسه پوري امپریالیستانو فقر اوناداري یوتا ریخي اصلي حالت بولي اوپه ډاګه سره وايي چي فقر اوناداري زمونږ له طرفه پرخلکو نه دي تحمیل شوي کوم چي داپخبله یوغلط اوګمراه کونکي وړاندیز دي او ددریم نړي هیوادونه هغوي له دی سببه په حال دتوسعه بولي چي دنوموړي هیوادونو اقتصادی شرایط معمولاْ خراب اودخرابیدو په حالت کي دي ، اودغه نظریي یا باور په کراتو اوپه تکرار سره له نیمي پیړۍ را په دي خوا لیکوالو هریو ( Barbara Ward) او ( W.W. Rostow ) توضیح کړي دي چي د امریکي متحده ایالات او ځني غربي هیوادونو یوه غټه او لویه تخصیصی بودجه د بیرته پا تي هیوادونو دپاره بیله کړي چی دشما لي

ثروتمند و  کارپوهانوله خوا جنوبی بیرته پا تي خلکوته  نوی تکنالوژی ورزده کړي اوهم هغوی د کار اودکارکولو  په ارزش باندی  پوه کړی اوکار کول د هغو په ورځنی عادت  باندی واړوی  ، دادی  دیو سپین پوست  امپریالیست  دعلاقي وړ یو فانتزي اوله خیاله ډکه نسخه .

دپرمختگ یا دانکشاف دسناریو اودغربي  سرمایه گذارانو د دزړه خوښونکي سریزي په پام کي نیولوسره په دی معنی چي دنادارو هیوادو اقتصا دی بیرته پا تي سکتورونه  خپل  کارگران  به  له کاره  آزادوی اوبیا دهغه کارگرانودپاره داسي زمینه برابریږی چی په مدرنو برخو یا سکتورونوکی دلوړاجوری په لاس ته راوړلو سره کارونه ترلاسه کړی اودلویو ښارونو په مینځ کی سره راټول شي  پانگوالانو به دسود دلاسته راوړلو ترسرخط  لاندی  به  له  سره سرمایه گذاري وکړي اودهغه په نتیجه کی محصولات ،کسب اوکار به لاپسي زیات شي ،نوی مارکیټونه به ایجاد شی اود کاردخرید بازار به گرم شي اوپه دی بڼه سره به دیوی بریالی اوسرلوړي اقتصادی ودی دپاره پوره شرایط  به چمتو شي . دا هغه څه دی چی دپانگوالانو دسنا ریو د سریزی مضمون جوړوی چي مو پورته په ذکر ورسول .

دغه د(انکشاف تیوري) یا د( مودرینیزیشن تیوري ) کله  نا کله دایږو(خرسو) اړیکي نیونه دواقیعت سره نومول کیږي اوداپه دی معنی چي دهغه پایلي  په دریم نړۍ کي دپا نگوالي له خوا د ا ستثمار شکلونه لاپسي شد ید  کیږي ، اقتصادی  حالات  اوشرایط  د فراملیتي  سرمایه گذارو شرکتونو  له خوا نور هم له بده بدتر کیږي ، دلته ستونزه د بیرته پاتي هیوادونو د جمیعت د نه تولید یا د کمزورتیا مساله نه دي   بلکه  د خارجی زبیښاک اوطبقاتی نابرابری مساله دی    اودا په دی  معنی  چي پانگوالانوخارجی هیوادونو ته ددی دپا ره نه ورځی چی هغه  هیوادونه دهوساینې لوړوپوړو ته  جگ کړی  بلکه د خپلو گټو اود لا شتمن کیدو دپاره ورځی .

ددي هیوادونوخلکو دالازم نه گڼي چي هغوي ته دکرهنی اودمالداری

درسونه ورزده کړل شي، هغوي خمکي ته ضرورت لری چي پکي یوی اوکرهڼه وکړي ،هغوی ددي ضرورت نه لري چي هغو ته ورزده کړل شي چي څرنګه با ید کبان ښکار کړي ، بلکه هغوي د کب نیولو کشتي ، تور ، ساحلی میدانونه ،خلیچ اوبحر ته دلاس رسي ضرورت لری . هغوي ضرورت نه لری چی صنعتي زهری مواد او خنځلی را ټول کړي اوبیا یی په اوبو کی سره لاهو کړي ، همدارنګه هغوي ډیر په ستاندارد سره برابر حفظ الصحوی مراقبتونو ته ضرورت نه لری ، هغوی دواطلب د سولی لښکر (پیسکور) ته ضرورت نه لری چي هغوي ته ووایی چي اوبو ته جوش ورکړي اوهغه هم بیا په هغه وخت کی چی خلکو د انرژی او د سوند د لرګیود کمښت سره مخا مخ وي. هغوی یعنی ددریم نړۍ خلکو هسي حالاتو اوشرایطو ته سترګۍ په لاره دي چی پاکې رڼي اوبو وځښی ، ستره کا لي واغوندې اوستره خونې اوکورونه ولري .هغوي ضرورت نه لري چي لکه د شما لي ثروتمندو امریکایانو په څیر متعادل او بیلانس شوي خواړه وخوری ، هغوي په دی ښه پوهیږی چی دخپل ضروری انرژی دلاس ته راوړلو د پاره څه ډول غذا اوخواړه صرف کړي ،هغوي ضرورت لری چي دهغو ځمکی اود هغو کارګران بیرته ورته ورکړل شې چي د خپل ځان او د خپل کورني د پا ره کاروکړی پرخپلو ځمکو کی یوی وکړي ، اود خپل ضرورت غلی دانی وکري اوپه ارامه سره خپل کرهڼیز حاصلات ټول کړي اوآرام ژوند وکړي .

دامپریالزم میراث یواځي بد مرغۍ ،جګړه ،او یا دچا خبري شخړي نه دي بلکه دهغه میراث دبین المللي شبکي دشرکتونو په واسطه سره یومسلط اقتصادي جوړښت دي کوم چی دغه شبکوی شرکتونه په هغو غټو اومادری شرکتونو پوری تړلی دي چی دهغه مورنی غټو شرکتونو مرکزونه په شمالی امریکا ، اروپا اوپه جاپان کی پراته دي ، د یادولو مهم مطلب دادی چي که چیری هرډول همغاړیتوب ، یورنګي یا سره ګډ همکاری رامینځ ته شی دهمدي غټوشرکتونو په مینځ کی را پیښیږی

نه ددریم نړې په وطنی یا بومی اقتصاد کي ، ددریم نړی اقتصاد پخپل حال کي بی یوله بل سره په ادغام یاپخپل مینځو کی د ګډ همکاري څه دسرمایی اودکالیو دګردش یا دتکناوژی اویا د ښه سازمان ورکولو له مخی له یوسره سره ټوټی ټوټی پاتي کیږي او په مجموعي ډول سره هغه څه ته چی نړیوال اقتصاد ویل کیږي ،هغه په ډیر لږه او ناچیزي پیما ني سره دنړیوالو احتیا جات اوضروررتونوپوره کوي یا په دی لاره کی خد مت کوي .

## نوي امپریالیزم : دپیرویي شاربل

ځني وختونو ا مپریالیستی حاکمیت دهغه د ذاتي پراختیا غوښتني د تمایل له مخي د « سیمیز ضرورت » تر عنوان لاندي توضیح کید له. اما دامپریالیزم سیمیز ضرورت اویا دهغه دپراختیا غوښتني موضوع په واقیعت کی خپل مفهوم دلاسه ورکړی اواوس په سیا سیی خبرواومرکو کی دامفهوم نه کارول کیږي،دوخت په نظر کی نیولو سره یعنی دنولسم اودشلم پیړیوترداوایلو پوری هغه وخت چي داروپاځواک اوقدرت ټینګ شو یا ټیکاو وموند اواروپایانو دغه نړی پخپلو مینځو کی سره وویشل نو وروسته له هغه وخته بیا داستعماری حاکمیت اصطلاح هم د مینځه لاړ اوهغوی داستعمارترسرلیک لاندی نور څه شي له ځا نه پری نښود او دا په دی معنی چی کولونل بلمپس ( Colonel Blimps) مړ شو اوخاوری ته وسپارل شو او د هغه پرځای نوی دریشی کړی تجاران اوبیسنس مینان بی له دی چی امپریا لیستي قدرت د نورو ملکونو داستعمارولو د پا ره په کار ویسیی ځای په ځای کیږي او په ظاهری بڼي سره دکمزورو او ضعیفو هیوادونواستقلال اوحاکمیت منی اوهغه ته په اصطلاح درنا وی کوي،مګردغه غربی قوتونه دخپل مالی پانګي دکنترول تر نامه لاندي دځمری برخه ددغه هیوادونو له طبعی زیرمی اوشتمنیوڅخه ترلاسه کوي اودغه رابطه یااړیکي ته سیاسیي کارپوهانو نوي بڼه ورکوي اویا په مختلفو نومونو سره نوموي لکه : «غیر رسمي

امپراتوری» ، «استعمار بی له مستعمراتو » ، «نوی استعمار» ...
دمتحده ایالاتو سیا سيي رهبران ددی نوی ډول امپریالیستي ځواک په سر کي په تمرین اومشق کولو باندی پیل کوی چی په شلم پیړی کي کیوبا یو دهغه ژوندی مثال دي .او هغه په دي معني چی امریکا په (۱۸۹۸) کال کی د یوي جګړي په ترڅ کي د کوبا جزیره له هسپانویانو څخه تر لاسه کړ اوروسته بیا ددغه آزادکړ شوی جزیره استقلال او حاکمیت یی وما نه اوهغه یی په رسمیت وپیژندل ،کوم چی وروسته له هغه کیوبا پخپله د دولت ، اساسيي قانون ، بیرق ، پیسي اود امنیتی قوتونو ښتن شو ، مګر د دی نوموړی جزیری عمده خارچی اوسیاسیی چاری په شمول دهغه دشتمنی اوثروت لکه ، شکر ، تمباکو ، توریست صادرات او واردات لا تر اوسه دامریکایانو په لاس کی دی .

امریکایي پانګوالو په تاریخی لحاظ دمستعمراتو دلاسته راوړلو په نسبت دشتمنی اودثروت ترلاسه کولوته زیا ت اهمیت ورکوي اوددی په لټه کی وی چی دنورو هیوادونو پرخزانه اوشتمني باندی بی له کوم زحمت او ربړ کنترول ولري یعنی دنوی امپریالیزم بیرق دکور په دننه کي ورپیږ.ی اودهغو دالر دکمک اودمرستی تر کلمی هرچیری لاړ شی او سود تر لاسه کړي.

ددوهم نړیوال جګړی څخه وروسته اروپایی استعماری قوتونه لکه انګلیس اوفرانسه دیوی نوی امپریا لیستی ستراتیزي پرطرح اوتدوین باندی کار وکړل اودهمدغه نوی امپریا لیستی ستراتیژی له مخي خپل مالی یا پانګه یی د دریم نړي د اړودوړ په کلونو کی له هغه هیوادونو څخه وویستل او په ډیر اکراه یا زړه نازړه سره دی پریکړی ته ورسید چی په دریم نړي کی اقتصادی هژمونی په غیر مستقم بڼی سره دسیاسی مصلحتونو له مخی ترلاسه کړی اونور هغه ښکاره استعماری چلن اوتسلط ته له دی وجهی د پای ټکی کیږدی چی ددریم نړی دخلکو دسخت مقاومت سره یی مخه شوی وه ، اوداځکه چی په دریم نړي کی

دخلکو ناسونالیستي احساسات دمخکیني استعماری هیوادونو په مقابل را پاریدلی وه لکه چی اوس په هغه هیوادونو کی ضد امپریالیستي احساسات په را پا رید لو دی .

سره له هغه چي نوی ایجادشوي دولتونه دپوره اوبشپړ آزادی څخه برخوردار نه دي مګر له بل پلوه دخپلو خلکو په وړاندي د خپل نوی تاسیس شوی مشروعیت له مخی اویا داچی په مستقیم بڼه لکه دپخوا په څیر چی داستعمار له خوا ترکنترول لاندي وه اواوس نه کنترول کیږی خوشحال وي ،لاکن یوه خبره چی دهغه یادونه ضرور ګڼل کیږی هغه دا دي چی دغه نوي تاسیس شوی دولتونه مجبور دی چی دخپل اداری مصارفو دپاره یوڅه پیسی ولری نوله دی وجهی څخه هغوی ناچار دی چی دخپل بقا دپا ره له هغه مخکینی استعماری امپریالیستی هیواد څخه مالی مرسته تر لاسه کړی نو په نتیجه کي همغه غارتګر مخکینی استعما ری یا نوی امپریالیستي هیوا د د همدی پلمی ترسیوری لاندی خپل سرما یه په ډیر آزادانه ډول سره په همدغه نوی ایجاد شوی هیواد کی پکار اچوی اوتر هڅوکو پوری خپل استثما ر ته دوام ورکوي .

د استعمار له کلونو څخه راهیسی د دریم نړیَ هیوادونه د خپل تیراستعمارګر هیواد اویا دنړیوال د سرما یه داری له حوزی څخه د نه برابر اړیکو له وجهی څخه د ډیر لویوستونزو سره مخامخ دي اونشي کولي چی ځان له دغه ستونزی څخه آزاد کړی ، نن د دغه نړیوال سرمایه داری په سر کی متحده ایالات پروت دی چی د خپل اقتصادی اونظا می برلاسی له مخی نورو هیوادونه ترخپل ولکی لاندي راوستي دی چی ټول ته یوڅرګند حقیقت دی .

د نوی ایجادشوي یا آزاد شوي ملیتونو رهبرانو ممکن دی چی کله ناکله انقلابی شعارونه ورکړي سره دهغي چي هغوي خپل ځان اوموقف دنړیوال پانګوالي په مدار کي بند او تړلي ویني مګر د ناچاری له مخي دلمړني پانګوالي هیوادونوسره دهغو د پانګي اچوني ، تجارت اوځنی نور مصروفیتونو سره مرسته کوي اومونږ هم دژوندی شاهدانو

په ځير ددريم نړۍ ددغه نوي آزادشوى هيوادونو رهبران ګورو چي په څه عجيب وغريب او كنجكاوى برخوردونو سره امپرياليزم د خپل هيوادنو درا ولاړي شوي ستونزي سرچينه بولي او په ډير زيركانه بڼى سره امپرياليزم غندي او يا ورته بد وا ييي اوپه عين زما ن كي خپل مخالفت د هغو رهبرانو سره كوم چي هغوى دامپرياليزم سره مرسته كوي هم ښكا ره كوي اودهغو كړني تقبيح كوي .

دلته ديادوني وړ مطلب دادي چي په دغه نوي آزادشوى هيوادونو كي يو كمپرادور صنف مينځ ته راځي اويا دلمړنى شرط په توګه سره دغه دكمپرادور يا د دلالانو صنف په همدغه نوى آزادشوى هيوادونو كي دهغو د پانګوالو ملګرو له خوا په تحميلى بڼى سره په كار ګمارل كيږي اودهغو دندى يا مشغوليتو نه دا دي چي خپل هيوادونه د پانګوالانو د پانګي اچونى د پا ره چمتوكړي اويا ورته لارى پرانځي چي هغوى يعنى سرمايه داران په آزاد او مستقيم ډول بى له كوم خنډ او موانع سره سرمايه ګذارى وكړي . اويا داچى خپل هيوادونه دپانګوالو دپاره ديومشترى په بڼه رااړوى كوم چي پانګوالوددى نوى آزاد شوي دولتونو له سبسايدى(مرستو)څخه په ګټه اخيستوسره بى له ما لي وركولوځمكي خام مواد ، دكارګرو ټيټ اجوره ، اويا د كوچنيانو دكار نيرو تر لاسه كړى اود صنفى اتحاديو اويا دحرفوى اشتغالاتو له بيمي او دچاپيرياِل دساتنى له تكس اومالى وركولو څخه بلكل فارغ اووسي .

په هرصورت دريم نړۍ داروپايانو اوامريكايانو دپاره د نولسم پيړى په اوږدو كى دهغه لويو ګټو، كوم چي هغوي تر لاسه كړل اونن لرونكى د يو ډير لوړ اوقوى منظم اقتصادى هيوادونو دى له جنته هيڅ كم نه ګڼل كيده اويا نه ګڼل كيږى ، نو په همدى وجهى سره هغوى يعنى اروپا او دامريكا سرمايه دارانو د هغه خد متونو په بدل كى چي ددريم نړي دلالانو اودهغوى رهبرانو ورته كړى وه دامريكى دولتمردانو هغوي د غټو سوغاتونو په وركولو سره يى ونازول . له بل طرفه په دى نوى آزاد كړل شوي هيوادونو كى امريكايي پانګوالو دخپل سرمايى دخوندى

ساتلوترسرلیک لاندی خپل امنیتی قوتونه کوم چی په اخری مودل سلاح اوپه ډیرمخکی تللی تکنالوژیکی مهماتو سره سمبال  دی هغوته دترور، وحشت اود وژلود درسونو  په ورکول سره د ثبات اومصونیت په پلمی سره  ځای پرځای کړل اویا لاپسی په  همدی  لټه کی  دي مګر سره له دغو ټولو  هلو ځلوسره سره بیاهم امپریالزم دخطر احساس کوی او  هغه په دی معنی چی د de jure  دآزادی  سره په لاس رسي کي  کوم  چي دهغه انتظار د  de facto  آزادی ته ډیر چټک رسیدل دی او دخپل  په لاس حاکمیت اودهغه حاکمیت دثمری ته هیله درلودل پخپله یو  تحریک اوانګیزه دی چی کله ناکله ملی اووطنپرست او  اصلاح طلب رهبران په نوموړی دریم نړی هیوادونو کی را زیږوی چی دکمپرادورانو سره  په اختلاف د خپل هیواد د ښیګڼی دپاره نه ستړی کیدونکی مبارزه کوي نو په دی بنیادسره له زوړاستعمارڅخه نوی استعمارته واوړیدل امپریالیزم ته بی له خطره نه وی اوداځکه چی د نړۍ ټولو پرګنو ته د خالصو ګټو ستر نښی اونښانی دي  چی باید په پام کي وساتل شي .



ددی مقالی دلیکونکی لنډه پیژندګلوی :

میخایل پارانتی په کال (۱۹۳۳) کی دنیویارک په ښارکی  زیږیدلی ، هغه په سیاسيي علوموکی د یال له یونیورسټی څخه د ph.D  دیپلوم تر لاسه کړي یوتاریخ لیکونکی ،مدرس ،مارکسیست اود شلومهمو کتابونو مولف دی کوم چی دهغه کتابونه دنړۍ په یوویشت ژبوسره ژباړه شوی

دی تاسی کولي شي چی دهغه اثار په انترنیټ کی دهغه دبیوګرافی تر سرلیک لاندی ترسترګو کړي ....... په درنا وی

-------------------------------------------